# صبغت الله مجددي


صبغت الله مجددي

صبغت الله مجددي په ۱۹۲٦ کال کي زېږېدلئ دئ. لوړي زده کړي يې د کابل په پوهنتون کي کړي دي . نوري زده کړي يې د مصر په هيواد کي د الازهر په پوهنتون کي کړي دي. هيواد ته تر را ستونېدو وروسته د کابل د حبيبيې په لېسه کي د ښوونکي په توګه په کار بوخت سو. او بيا وروسته د کابل په پوهنتون کي استاد سو .

د داود خان د منځ ته راتلو سره سم د هيواد څخه و ووت او د ډنمارک په هيواد کي د کوپنهاګن په ښار کي ژوند ته اړ سو .




په ۱۹۷۹ کال کي کله چي شوروي ځواکونه افغانستان ته داخل سوه نو مجددي د جهاد د پاره د اسلامي نجات د ملي جبهې په نامه يو حزب جوړ کړ چي دی يې مشر وو .

په ۱۹۹۲ کال کي يې د کمونيستي رژيم د ړنګېدو څخه وروسته د افغانستان د اسلامي دولت د لومړني اولسمشر په توګه دنده پيل کړه . صبغت الله مجددي په پاکستان کې د مجاهدينو تر منځ د يوه پخواني تړون پر بنسټ د افغانستان د اسلامي دولت اولسمشر شو . نوموړی تر دوو مياشتو پورې د افغانستان اولسمشر وو چې بيا تر ده وروسته برهان الدين رباني د اولسمشرۍ پر چوکۍ کښېناست . هغه په دې هېڅکله و نه توانېده چې د مجاهدينو د بېلابېلو ګروپونو او تنظيمو نو تر منځ پخلاينه راولي . مجددي د طالبانو د واکمنۍ پر مهال ځان د سياست څخه ګوښه کړئ وو . د ۲۰۰۳ م کال د ډيسمبر په مياشت کي د افغانستان د اساسي قانون له مخي مجددي د لويې جرګې د ريس په توګه وټاکل سو .